حبيب وقار ۱۰جنوری،۲۰۱۰

# بشري حقونه خپلواك كه بلواك كميسيون

پرلپسي وژني او زموږ د بشري حقونو د كميسيون پټه خوله پاتي كېدل، ډېرې پوښتني راولاړوي، موږ نه پوهېږو چي له بهرنيانو سره كوم قرارداد شوى، چي د افغانانو د وژني پوښتنه به نه كيږي او كه څه كيسه ده، چي هېڅوك يي هم پوښتنه نه كوي. موږ افغانان په پرلپسي توګه وژل كيږو خو داسي څوك نه شته چي پوښتنه مو وكړي، ولسمشر يي يوازې په غندلو، خواخوږي څرګندولو، په يوه وژل شوي باندې د ۵۰ زره افغانيو د وېشلو باندې پاى ته رسوي، خو په اصل كي د يوه انسان د وژني ارزښت په څو پيسو سره نه پوره كيږي. كه چېرې يي ولسمشر او نور چارواكي پوښتنه نه كوي او يا هم په جوړجاړيو بوخت دي، نو د بشر حقوقو خپلواك كميسيون ولې دومره ناخپلواك شوى، دوى يې ولې په كلك هوډ سره په ملګرو ملتونو كې د دې موضوع په جدي توګه پوښتنه نه كوي.
د سيما ثمر د چپ پاتي كېدو سره مي د نوموړې يوه خبره چي په يوه مجلس كې چې زه او يو بل كس ورسره ناست و وكړه، را ياده شي. زما ملګري له نوموړې پوښتنه وكړه چي ډاكټر صاحب تاسي ولي راتلونكو ټاكنو ته (چې هغه د ولسمشرى لومړى ټاكنې وې) ځان نه كانديدوى، نوموړې په ځواب كي ورته وويل، ((دا چې زه د خپلو هېوادوالو لپاره دا جهاد چي همدا اوس په كي بوخته يم وكړم دا ډېره لويه خبره ده دا د فساد حكومت دى او په دې حكومت كې د افغانانو پوښتنه نه كيږي، خو زه به د هر افغان د مړيني، ژوند او ستونزو پوښتنه كوم.)) اوس څه شوه هغه سيما ثمر چې دا ډول شعارونه يې وركول، ولي يې شعارونه په خوله كې بند پاتي شول، ولي يې د هسكي مېنې، بالابلوك، عزيز آباد، سيدآباد، شاه ولي كوټ، چاردرې او په دې لنډو ورځو كې د روداتو پوښتنه ونه كړه، او كه دا ښاغلې په هېواد كې خلكو ته د دوى د تذكرې له مخې ارزښت وركوي چې د كومې سيمې دى.
د بهرنيو ځواكونو له لاسه زموږ تنكي زلمي په قصدي ډول وژل كيږي خو زموږ بشري حقونه يې په كيسه كې هم نه دي. د دولت چارواكى او د كونړ والي ښاغلى فضل الله واحدي ويلي چې كه څه هم په كونړ كې د امنيتي ځواكونو لپاره د همغږۍ اداره شته، چې بهرني پوځيان هم بايد په همغږۍ عمليات وكړي، خو له بده مرغه په دغو عملياتو كې له دې ادارې سره هېڅ سلا مشوره نه ده شوې.
د افغانستان ختيځ كونړ ولايت چارواكو ويلي چې د ناټو په پوځي عملياتو كې لس كسه ولسي وګړي وژل شوي، چې اته يې زده كوونكي دي.
د كونړ والي سيد فضل الله واحدي همدا راز رسنيو ته څرګنده كړې، چې سيمې ته د استول شوي پلاوي لومړنۍ موندنې ښيي چې په عملياتو كې لس كسه وژل شوي چې اته يې د ښوونځي زده كوونكي دي: ((زموږ له خوا د لېږل شوي پلاوي په مټ معلومه شوه، چې لس كسه وژل شوي، چې اته يې د ښوونځي د بېلابېلو ټولګيو، لكه نهم، لسم او يوولسمو ټولګيو زده كوونكي دي، دوى په ځمكنيو عملياتو كې وژل شوي.))
آيا دا افغانان نه دي چي سيما ثمر يې پوښتنه وكړي؟
آيا دا زده كوونكي د دې هېواد راتلونكي روڼ اندي نه دي؟
آيا دا زده كوونكي مور او پلار نه لري؟
دا چې زده كوونكي او وژل شوي كسان افغانان، ملكي وګړي، او د دې هېواد اوسېدونكي دي، نو بيا ولې يې د بشري حقونو مشره پوښتنه نه كوي؟
آيا دا پرته له دې بله كومه دنده هم لري چې تر دې د ډېر ارزښت لرونكې وي؟
آيا تر دې اهمې پېښې هم شته چې د دې پېښو د پلټلو مخه يې نيولې وي؟
خو نه داسې نه ده! سيما ثمر نه غواړي چې د افغانانو وينو ته ارزښت وركړي، افغانان نړيوالو ته داسې وښيي چې دا هم بشر دى، بلكې نن ورځ نړيوال افغانانو ته د يوه مصرفي توكي په توګه ارزښت وركوي.
موږ له خپلو ټولو چارواكو څخه غواړو څو خپلو افغانانو ته د ارزښت په سترګه وګوري او بهرنيانو ته وښيي چې موږ خپلو هېوادوالو ته درناوى لرو، كه نه وي د فرانسې له لومړي وزير څخه دې زده كړي، هغه وخت چې په سروبي كې فرانسويان ووژل شول، لومړى وزير يې په هوايي ډګر كې د خپلو وژل شوو سرتېرو د وروړو په انتظار ولاړ و او د دوى په ليدو يې اوښكي تويولې، خو زموږ د بشر حقوقو ټولنې يوه ورځ هم د عزيز آباد د يتيمې زهرې او نورو سلګونو يتيمانو په حالت زړه سوى ونه كړ او نه يې اوښكي پرې تويې كړې.
بهرنيان د يوه امريكايي سرتېري د وژل كېدو له امله ټوله هغه سيمه بمباروي په كومه كې چې هغه سرتېرى وژل كيږي. دوى ته اوس څرګنده شوې ده چې دلته هېڅ داسې څوك نه شته چې پوښتنه يې وكړي، ولسي جرګه چې ځانونه د خلكو استازې او د خلكو د ستونزو پوښتونكي بولي هم يوازې په دې بسنه كوي چې له جرګې څخه د احتجاج په توګه ووزي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

که چېرې دوی په رښتیا هم د افغانانو د مړیني پوښتنه کولای نو ولې یې په دې څو کلونو کې د داسې پېښو په کېدو سره یوه هم استعفاء ور نه کړه. که حالات همداسې وي، نو افغان چارواکي او بهرنیان ټول دې په دې پوه شي چې افغانان به نور پټه خوله پاتې نه شي، که چېرې یې څوک پوښتنه نه کړي دوی به په خپله، خپله پوښتنه وکړي او نور به هېڅ کله هم د بشري حقونو ټېکه دارې سیما ثمر او یا هم نورو تش په نوم چارواکو ته هیله ونه لري.
د لمریز ۱۳۸۸ کال د مرغومې ۱۹ مه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ